**<u>مطبوعاتي اعلامیه</u>**

## د اسلامي خاورو پر حریم د یهودي رژیم تېری او په پلازمېنو کې د امت د بچیانو ترور؛ تر یهودي کیان وړاندې د دغو ډارنو رژیمونو جرم دی!

(ژباړه)

صهیونیستي رژیم په یوه خاینانه او بې شرمانه برید کې د ایران په تهران ښار کې د حماس د ډلې سیاسي مشر، زموږ ورور، اسماعیل هنیه ترور کړ. له الله سبحانه و تعالی څخه رحمت، مغفرت او د شهداوو مقام ورته غواړو! **إنالله و إنا الیه راجعون!**

د دغه غضب شوي رژیم چټل لاسونه اوږده شوي او فساد یې له حده تېر دی. جنایتونه یې نور د فلسطین تر مبارکې ځمکې نه محدودېږي چې خلک یې له ټولوژنې، شکنجې او نسلوژنې سره مخ کړي. اوس یې الوتکې او چورلکې د مسلمانانو د خاورو په ښارونو او پلازمېنو کې ګرځي، هر ډول چې وغواړي وژل کوي، ویجاړول کوي، اورونه بلوي او هر وخت چې وغواړي ترور کوي. د غزې او یمن یا د بیروت سویلي ضاحیې او تهران ترمنځ کوم توپیر نشته. د حال او مقال ژبه یې وایي چې دوی نه د مسلمانانو د وینې حرمت پېژني، نه یې د ځان، نه یې د ځمکې او نه یې د فضا. ښکاري چې دوی هیڅ مرز نه لري او یوه سره کرښه یې هم نه شي راګرځولی.

وضعیت داسې شوی چې نور یوه اسلامي خاوره هم نشته چې د یهودي رژیم له تعرض او تېري خوندي وي. دا په داسې حال کې ده چې خاین او دسیسه کوونکي حکام دومره ذلیل او خوار شوي چې نور هغو خاورو ته چې تېری پرې شوی، هغه کرامت ته چې نقض شوی او یا هغو ګاونډیو مسلمانانو ته چې د دښمن تر ظلم لاندې دي، هیڅ پام نه کوي. دوی ان په ناحقه توېې شوې وینو ته، هغه که د هغو مېلمنو وي چې دوی ته یې پناه راوړې او یا د هغو مسلمانانو وي چې د یهودو د ظلم له لاسه دوی ته ورغلي، په حرکت نه راځي.

د ټولو حکامو حالت یو شان دی؛ هغوی چې په ښکاره خیانت کوي او له یهودي رژیم سره اړیکې عادي کوي او هغوی چې په درواغو د مقاومت ادعا کوي، هیڅ توپیر نه لري. ټول حکام په ورته حالت کې دي؛ یا چوپ پاتې دي او په دسیسو کې لاس لري او یا هغه ډارن دي چې ان د دښمن بریدونو ته له ځواب څخه عاجز دي! دوی د ځواب ویلو حق یوازې د ځان لپاره محفوظ ګڼي او د بیړنی اقدام پر ځای په راتلونکي کې پر ځواب ویلو اکتفاء کوي او یا هم د بزدلۍ له امله اغېزناک اقدام نه کوي؛ په داسې حال کې چې د امریکا تر چت لاندې یې پناه اخیستې او دښمن له کوم محدودیت پرته وژنو او ویجاړیو ته دوام ورکوي.

څه چې نن ورځ یهودي رژیم کوي، ښیي چې دښمني یې ځانګړو چارواکو یا دولتونو ته نه، بلکې ټول اسلامي امت ته معطوفه ده. یهودي رژیم پر ټولو برید کوي او شر یې نور یوازې د فلسطین تر خلکو نه محدودېږي او دا شر به تر هغې دوام کوي چې څو د یهودي رژیم جرړې نه وي ایستل شوې.

تر هغې چې یهودي رژیم شته، خپل تجاوز ته به دوام ورکوي. دا پېښې ښیي چې په اوسنیو شرایطو کې نه بومي مسلمانان او نه هغوی چې اسلامي خاورو ته یې پناه راوړې، هیڅ خوندي ځای نه لري!

تر هغې چې دا ډارن حکام شته او د واک پر ګدۍ ناست وي؛ د مسلمانانو خاورې به همداسې لوټېږي، پر کرامت به یې تېری کېږي، وینې به یې تویېږي او ځانونو ته به یې ګواښ وي.

سره له دې چې د امت شمېر، شتمنی، پوځونه او ځواکونه زیات دي؛ خو تر هغې به هیڅ ګټه ونه لري چې څو د دغو خاینو رژیمونو لخوا محدود وي. دا حاکم رژیمونه نه د امت دفاع کوي او نه یې پشتوانه ده!

له دغو حکامو د ژغورنې او خلاصون قضیه او مسله چې له امت سره یې خیانت او خپل دین یې سپک کړی او له الله سبحانه و تعالی او پیغمبر صلی الله علیه وسلم سره یې خپل عهد مات کړی، اوس په هره پېښه کې ښکاري او ان دا قضیه د هر هغه مصیبت اصل او اساس شوی چې په اسلامي خاورو کې پېښېږي.

د مسلمانانو لپاره د ډال په توګه د یوه داسې امام او رهبر د شتون قضیه اوس اصلي اړتیا ګرځېدلې چې دین اقامه کړي، جهاد ژوندی وساتي او خپلې خاورې او خلک خوندي کړي. باید هیره نه کړو چې د داسې امام او رهبر شتون فرض دی او له راتګ سره به یې د الله سبحانه و تعالی په خوښه یهودي رژیم او د هغو تېري له منځه لاړ شي او هیڅ نښه به یې پاتې نه شي! الله سبحانه و تعالی فرمایي:

**﴿كُلَّمَا أَوْقَدُواْ نَاراً لِّلْحَرْبِ أَطْفَأَهَا اللّهُ وَيَسْعَوْنَ فِي الأَرْضِ فَسَاداً وَاللّهُ لاَ يُحِبُّ الْمُفْسِدِينَ﴾** [مائده: ٦٤]

**ژباړه:** *«دوی چې کله هم (د مومنانو پر وړاندې) د جګړې اور بل کړی، الله هغه (د دوی په ماتولو او د مومنانو په بري) مړ کړی دی. دوی په ځمکه کې د فساد رامنځته کولو هڅه کوي (او په فریب او فتنه اچولو او جګړه فساد خپروي. دوی مفسدین دي) او د الله مفسدین نه خوښېږي»*

**د حزب التحریر مطبوعاتي دفتر – د فلسطین مبارکه خاوره**

**۱۴۴٦هـ.ق، دمحرم ۲۵مه**

**۲۰۲۴م کال د جولای ۳۱مه**

**د صدور ګڼه: ۰۴/۱۴۴٦**